
اکثریت
د افغانستان اکثریت گوند
حزب اکثریت افغانستان
شاه امان الله خان
د گوندي روزنې کمېټه

**بسم الله الرحمن الرحیم**

د افغانستان د خپلواکۍ ګټونکی، مختګپال پاچا غازي امان الله خان د نوي افغانستان د رڼا د لښکر داسې سرلاری و چې یوه پېړۍ وړاندې یې د تیارې له لښکر سره جګړه پیل کړه او دا جګړه لا هم روانه ده او ګټل غواړي.

موږ د تاریخ پر ارتقایي حرکت باور لرو، د امان الله خان لخوا پیل شـوی دا حرکت ځنډول کېدای شي، خو هېڅکله په ټپه نشيـ دربېدای، فکري عناصر او سیمبولونه یې څوک نشيـ محوه کولای او لکه د اور بڅرکي به بیا بیا سر راپورته کوي او د تیارې د لښکر په اندامونو به لړزه راولي .ځکه خو په دې باور یو چې شاه امان الله خان تاریخي موضوع نه ده، بلکې د نن او سبا ژوندی بحث او د تیارې له لښکر سره ورځنی جنګ او جدل دی.

زموږ له نظره د رڼا لارویان او پرمختګپال عناصر هغه مهال په دې جنګ کې بریالي کېدای شي چې لومړی د اماني فکري مکتب دښمنان او بدخواهان وپېژني .هر هغه سیاسي، فکري جریان او شـخصیتونه چې په افغانستان کې د سیاسـت او قدرت ادعا لري، لومړی باید شاه امان الله خان او د هغه لخوا پیل شوي مختګپال بهیر سره یې نسبیت په ډاګه او د هغه د ارمانونو په تله وتلل شي .دا ځکه چې د هر مختګپال افغان او سیاسي جریان لپاره شاه امان الله خان د ازادۍ، برابرۍ او پرمختګ یو داسې څلی دی چې دغه څلي ته د نږدېوالي او لرېوالي څخه د یو سیاسي جریان او شخص مفکوره، خپلواکي او ازاد اندیشي ارزول کېدای شي، چې د رڼا له دې څلي څخه په څومره واټن کې واقع دی.

د شاه امان الله خان د دورې تاریخ زموږ پر وړاندې پرانیستی پروت دی او بلا شـواهد، اسناد او روایتونه شته او اکثریت افغانان په دې پوهېږي چې چا د دغه مختګپال پاچا خلاف څنګه او په کومو وسـایلو زموږ په ټولنه کې مرتجع داخلي کړۍ ولمسـولې . ښکېلاکګرو قوتونو په کوم مکر او فریب یوه پېړۍ پخوا د پرمختګ او اصلاحاتو پیل شوې لړۍ وشلوله.

مسـتند او کره تاریخي شـواهد موږ ته وایي چې د انګریزانو څخه د خپلواکۍ د بیا ترلاسـه کولو نه وروسـته، د بریتانیا تر حاکمیت لاندې د هند په ټوله نیمه لویه وچه او لویو ښـارونو کې د امان الله خان د بریالیتوب او د انګریزانو د شـکسـت بحثونه روان وو .امان الله خان په ډېر لږ وخت کې د ټولو محکومو ملتونو او په ځانګړي ډول د هند ازادي غوښـتونکو مسـلمانانو لپاره د الهام یوه سرچینه شو .په هند او بریتانوي مستعمراتو کې د شاه امان الله خان محبوبیت او د افغانانو د استقلال اوازو بریتانوي امپراطوري ورخطا کړې وه، نو په افغانسـتان کې یې د ځوان شـاه په خلاف له دریېو ډلو سره کار پیل او هغوی ته یې دنده وسـپارله چې د شـاه خلاف خلک راوپاروي او د روانو اصلاحاتو مخه ونیسي.

لومړۍ ډله **شاتګپالي درباریان او بیوروکراتان** وو چې په عین حال کې د مشروطیت د لومړي غورځنګ مخالف پاتې شوي وو.

وروسـتۍ شـاتګپالي ملایان او پیران وو چې له پخوا څخه د انګریزانو قلنګ خواره او فرمانبرداره طبقه وه، او دریېمه ډله د هغه وخت لنډغر، پایلوچان او غله وو چې منظم باندونه یې درلودل او کولای شـوای د ښـارونو او لویو لارو امنیت خراب کړي، چې د سـقاو زوی یې هم غړی و.

دغو درې واړو ډلو په همهالي او منظم ډول په دولت کې دننه، جوماتونو او لارو کوڅو کې د شاه خلاف پراخ تبليغات او ورانکاري پيل کړه .دوی د هېواد هر راز خپلواکي د کفر او اسلام په تله وتلله او زموږ د خلکو له پاکو ديني احساساتو څخه يې د انګرېزي ښکېلاکي موخو لپاره ګټه پورته کړه .د يوې پراخې پروپاګنډې په لړ کې پر افغان خپلواک دولت باندې د کفر ټاپه ولګول شوه او د شاه هر راز افغاني او انساني کړه وړه په همدې توګه بدنامه کړای شول.

دا هغه مهال و چې د افغانستان شمالي لور ته، روسيه کې بولشويکان تازه د يوه ولسي-انقلاب پر مټ واک ته رسېدلي وو .انګريزانو په ټول هند کې ملايان منسجم کړل او د کمونيزم د خطر په لويولو سره يې د هندي مسلمانانو په منځ کې د انګريزي استعمار څخه خپلواکۍ مبارزه او روايت منحرف کړ .په دې لړ کې يې د امان الله خان اصلاحاتو ته د بلشويکي انقلاب د نوم په ورکولو، د عوامو په منځ کې د پاچا په ضد تکفيري پروپاګند او دروغ پيل کړل .دوی د دغو دروغو د خپراوي لپاره هر ډول مالي او جنګي امکانات د شاتګپالو او ملايي ډلو په لاس کې ورکړل.

ارشيفونو کې داسې شواهد شته چې د بريتانوي هند استخباراتي ادارې د ملکه ثريا عکسونه د بربنډو ښځو له تنې سره يو ځای کړل او په قبايلي سيمو کې يې خپاره کړل .دغه وخت د بريتانوي هند مشهور جاسوس لارنس، چې په پښتو ژبه مسلط و، د پير کرمشاه په نوم افغانستان ته داخل شو او دغو اوازو ته يې هوا ورکړه .ملا عبدالله، مشهور په ګوډ ملا، به چې کلي په کلي ګرځېده، يو لاس کې به يې د امان الله خان نظامنامه »اساسي قانون «او بل لاس کې به يې قرآن نيولی و او خلکو ته به يې ويل چې تاسې د بلشويک قانون منئ او که قرآن؟

له بده مرغه، موږ نن هم د انګريز په لاس جوړ شوي د سلو کالو پخواني ارتداد او کفر له دغه روايت سره مخ يوو، د ګوډ ملا په ځای له ملا هيبت الله او په درجنونو استخباراتي ملايانو سره مخ يوو.

په تاريخ کې خو موږ د شاه امان الله خان د اصلاحاتو مخالفان پېژنو، خو پکار ده چې په اوسني عصر-کې هم د طالبانو تر څنګ نور هغه اشخاص، سياسي او فکري جريانونه هم وپېژنو چې د اماني انساني فکري مکتب مخالف دي .دا خلک څوک دي او علت يې څه دی؟ د هر افغان سياسي فعال لپاره په دې هم پوهېدل ضرور دي.

**د سياسي اسلام روايتګر** :اخوانيان او طالبان چې دواړه نن سبا په افغانستان کې د سياسي اسلام علمبرداران او د دې روايت چلوونکي دي، له شاه امان الله خان سره يې دښمني يو څه جوته او د پوهېدو وړ ده .اسلامپاله سياسي ايډيالوژي يوه شاتګپاله ايډيالوژي ده، په دې معنا چې دوی غواړي تېر ته رجعت وکړي او خپل ارماني نظام په تاريخ کې لټوي او هلته هم د عثماني خلافت يا د راشدينو د خلافت مثالونه راوړي .دوی پرته له دې چې د اوسنی نړۍ، عصر-او انسانانو شرايط او غوښتنې په پام کې ونيسي، د اسلامي تمدن څوارلس سوه کلن فرهنګي پرمختګ له پامه غورځوي او په يو ټوپ شاته ځي او خلکو ته د زر دولس سوه کالو پخوا خلافتي نظام د راژوندي کولو او تطبيق خيالي ژمنې ورکوي .له شاه امان الله خان سره د دوی د مخالفت دلايل څکه روښانه دي چې شاه امان الله خان د خپلو خلکو او هېواد پرمختګ د تاريخي ملي، فرهنګي او اسلامي هويت په ساتلو سره په راتلونکې کې لټاوه.

**ستمي او قومي روايت**: دا ډله اشخاص او ډلې شاه امان الله خان ته د يو مترقي افغان په ځای له قومي زاويې ګوري. سره له دې چې دا ډله اشخاص او ډلې د لبراليزم او ډموکراسۍ شعارونه ورکوي، خو په عين حال کې کله اخوانيان شي، کله طالبان او کله تر دې کچې لبرال شي چې غربي لبرالان هم ورته ګوته په غاښ شي. دوی د يو شخص نظرياتو او د افغانستان راتلونکي په اړه د هغه ليدلوري ته نه ګوري، بس چې د ده د قوم کس وي، هغه که هر فکر ولري، جنايتکار وي، غل وي، قاتل وي او هر څه وي، د دوی لپاره اتل دی. دغه ډول قومي اشخاص يوازې په غير پښتنو کې نه، بلکې په پښتنو کې هم شته چې خپله به چېرته په کوم لوېديځ هېواد کې لبرال او هوسا ژوند لري، خو د پښتونولۍ په خاطر به د طالب پلوي کوي. دغه کټګوري خلک که د هرې سيمې او قوم پورې تړلي وي، د شاه امان الله خان مخالف دي.

**د پخواني شاه محمد ظاهرشاه پلويان**: د واک او قدرت پر سر د شاه امان الله خان سره د نادرخان د کورنۍ مخالفت په تاريخ کې ډېر څرګند دی. نادر خان د حبيب الله کلکاني په ضد په دې پلمه ولسونه متحد او کابل ونيوه چې له خلکو سره يې ژمنه کړې وه چې خپله واک او قدرت نه غواړي او دا هر څه د شاه امان الله خان د بيا واک ته رسېدو په خاطر کوي. کله چې کابل نيسي، ځان پاچا اعلانوي او له هغې وروسته د دغې کورنۍ په څلور لسيزو قدرت کې هڅه کېږي چې د امان الله خان پلويان او روښنفکران شکنجه او بنديان کړي. هڅه کوي د شاه امان الله خان نوم له تاريخ نه حذف کړي، خو د شاه امان الله خان د نوم او نښان پېټول د لمر د پټولو هڅه وه چې تر اخره د ولسونو په زړونو کې ژوندی پاتې شو. نو د پخواني شاه پلوه ځينې متنفذه کورنۍ، اشخاص او ډلې چې خپله ملي او پرمختګپال فکر لري، خو د قبيلوي تعصب او تربګنيو په خاطر لا هم هڅه کوي چې په غير مستقيم ډول د شاه امان الله خان نوم او نښان ته ضرر ورسوي.

**ځينې غرب ځپلي لبرالان**: دا ډله ګډوډ نظريات لري، دوی د امان الله خان ځينې نظريات مني او ځينې يې ردوي. کله چې د ملکه ثريا کوم عکس وګوري، نو امان الله خان تکفير کړي، خو کله چې د امان الله خان په ويناوو کې ښه پيغام وګوري، له هغې سره مست شي. دا ډله خلک کله د امان الله خان عکس د يو مجاهد سره لګولی وي، کله يې د يو مشهور امريکايي جاسوس او وطنفروش سره. دوی د تاريخ څخه کوم ژور درک نه لري، خو دوی په پوهېدلي يا ناپوهېدلي ډول په تولنه کې د شاه امان الله خان افکارو ته زيان رسوي او دغه منافقانه چلند يې بايد وپېژندل شي.

شاه امان الله خان غازي هغه څوک و چې هېڅکله يې د وطن او خپلو ملي ارزښتونو په سر له دښمنانو سره معامله ونه کړه او تر اخره خپلو ارمانونو ته، چې يو پرمختللی، په ځان بسيا او خپلواک افغانستان و، ژمن پاتې شو.

د افغانستان اکثريت ګوند دا مني چې هېڅوک او هېڅ تاريخي دوره له نقد او نيوکو پورته نه ده، خو دا نقد بايد علمي، په حقايقو ولاړ او نظرياتي وي. خو په اوسني وخت کې پر امان الله خان او د هغه په دورې روان نقدونه ډېری د غرض نه ډک، خصمانه او د دښمنانه دي چې اوسني حاکم استبدادي نظام ته د بقا او دوام پلمه په لاس ورکوي، چې د نجونو د ښوونځيو او د ښځو د کار بنديز پرې توجيه کړي.

نوی افغانستان د نوي نسل نوې رهبرۍ ته اړتیا لري چې د ستر غازي شاه امان الله خان لیدلی خوب په حقیقت بدل کړي .افغانستان یو سنتي اسلامي هېواد دی او دلته د اسلام تر څنګ په ټولو تاریخي دورو کې هندوانو، سېکهانو، یهودانو او د بېلابېلو دینونو، قومونو او باورونو انسانانو ژوند کړی دی .دا هېواد د دغو ټولو وګړو دی او نوې رهبري باید د افغانستان دا تاریخي رنګارنګي په خپل سیاسي دریځ کې روښانه وساتي .نوی نسل باید په دې پوه شي چې د افغانستان جګړه قومي او مذهبي نه ده، بلکې دا جګړه د استعمار د واکمنۍ د دوام لپاره ده او د افغانستان لپاره یوازې هغه ډله او افراد مبارزه کولای شي چې د ټولو استعماري ځواکونو نه پورته، د خپلې پاکې او منسجمې سیاسي مبارزې له لارې د افغان ولس باور ترلاسه کړي .یوازې داسې یو نسل کړای شي افغانې ښځې او نارینه ته د ژوند هیلې ورکړي.

د همداسې یوې مبارزې پر لور!